## الف

**انیمومتر**

هغه دستګاه چې دبادونودلورې اوچټکتیاداندازه کولولپاره استعمالیږي.

**اعتدالین**

دکال هغه وختونه چې دلمروړانګې داستواکرښې باندې عمود لګیږي چې دواړه قطبونه ترې په یوه اندازه ګټه اخلي. اواستوادکرښې په اوږدوپه شمالي اوسویلي نیموکروکې دهرې بلې نقطې دورځې اوږدوالی ۱۲ ساعته دی، داعتدالین وخت دپسرلي لومړی نېټه (حمل ۱) اودمني لومړۍ(میزان۱) ده.

**اقلیم**

دځمکې دهوامنځنۍ اندازه ده چې په یوې ټاکلې سیمې کې په یوې اوږدې مودې په دوران کې ټاکل کیږي.

استوایي قطب

دځمکې دکرې ډېرلوی قطر ته وایې چې ځمکه په دوه مساوي (شمالي اوسویلي) نیموکرووېشي.

ابنا

داوبو نرۍ طبیعي بهیردی، چې دوه لویې اوبه (سمندریاسمندرګي) سره نښلوي لکه دجبل الطارق ابنا

اتازوني

فرانسویانودامریکا دمتحده ایالاتو هېواد داتازونې په نوم یاداوه.

اطلس Atlas----

اطلس په یوه کتاب کې دمختلفو نقشو مجموعې ته اطلس ویل کیږي

انګارا

هغه لرغونې وچه ده چې په دې کې اروپایي روسې میدانونه – مرکزي سایبریا برخه تارم حوزه – چېن او منچوریا میدانونه ټول په برکې نیول

جنوبي لرغونې وچه ګاندوانا ګاندوا نا هغه لرغونې وچه ده چې دهند او عربستان ټاپووزمې پکې شاملې وې

اعتدالین

**Download from:aghalibrary.cm**

دکال هغه وختونه چې دلمروړانګې داستواکرښې باندې عمود لګیږي چې دواړه قطبونه ترې په یوه اندازه ګټه اخلي. او استوادکرښې په اوږدو په شمالي او سویلي نیموکروکې دهرې بلې نقطې دورځې اوږدوالی ۱۲ ساعته دی، داعتدالین وخت دپسرلي لومړی نېټه (حمل ۱) اودمني لومړی(میزان ۱) ده.

اقلیم

دځمکې دهوامنځنۍ اندازه ده چې په یوې ټاکلې سیمې کې په یوې اوږدې مودې په دوران کې ټاکل کیږي.

استوایې قطب

دځمکې دکرې ډېرلوی قطر ته وایې چې ځمکه په دوه مساوي (شمالي اوسویلي) نیموکروویشي.

ارکتیک دایره

دشمالي عرض البلد ۶۶نیمودرجې، په دې اصطلاح یادیږي.

انتارکتیک دایره

دجنوبي عرض البلد ۶۶ نیمودرجوته انتارکتیک ویل کیږي.

استوادایره

دعرض البلد لویه دایره ده چې دځمکې کره په دوه (شمالي اوسویلي) نیموکرو ویشي.

اوړي شمسي انقلاب

داانقلاب هغه وخت رامنځته کیږي چې دلمروړانګې دسرطان په کرښې (شمالي ۲۳نیمودرجو )باندې ددوبي په لومړي نېټې باندې رامنځ ته کیږي، چې په شمالي نیمه کره کې دوبی پیل کیږي.

اپارتاید

دسپینواوتورو خلکوسره بېل بېل چلنداوترمنځ یې توپیر چې د۱۹۴۸ میلادي کال څخه یې دسویلي افریقا په هېوادکې قانوني بڼه درلوده.

استوایې اقلیم

اقلیمي سیمه چې داستوادکرښې په شاوخواکې پرته ده اوداستوایې باراني ځنګلونو اقلیم اوسوانا ساحه په کې شامله ده.

اورښت

ټولې اوبه،واوره اوږلۍ چې له وریځو څخه اوري، اورښت بلل کیږي.

استوايي ځنګلونه: د استوايي سيمو ځنګل چې د شمالي عرض البلد له ۷ درجونه د جنوبي عرض البلد تر ۷ درجو پورې شتون لري، د تودې او لندې هوا ، او ډېرو بارانو لرونکې او پرته له وچ او بې بارانه فصل وي.

اوريشيا

دااصطلاح داسيااواروپا ددوو کليمو څخه اخيستل شوې ده ، اودواړه لوېې وچې تر يو عنوان لاندې د اوريشيا په نوم يادېږي. ځکه دواړه سره نښتي دي.

اورغورځونکې (اتشفشان)

د ځمکې په قشر کې د مګمادو يلې شويو موادو چې په زيات فشار خپله لار د ځمکې د سطحې په لور پرانيزي او د لاوا ويلې شوي مواد ورڅخه راوځي.

انقلاب:

هغه مثبت او بنيادي اوښتون دی چې د يوې ټولنې د ژوندانه په سياسي، اقتصادي او اجتماعي برخو کې په کيفي او کمي توګه منځ ته راځي. د ټولنپوهنې له نظره په يوه ټولنه کې د يوه زاړه نظام پر ځای د نوي او مترقي نظام ټينګيدل د انقلاب څخه عبارت دی. انقلابونه عموماً د ښکته څخه پورته خواته صورت مومي. دا بنيادي تغيرات او تحولات د خلکو او ولسونو په اراده او حرکت منځ ته راځي. په ټولنو کې ناانډولي، ظلم او استبداد له منځه وړي. د حقوقو برابري، ملي واکمني او ټولنيز عدالت منځ ته راوړي.د عيني او ذهني شرايطو سمون په ټولنه کې د انقلاب د برياليتوب اولني اساسات دي. که چيرې عيني او ذهني شرايط دواړه او يا يو د دوی څخه تيار نه وي، د انقلاب منځ ته راتګ او برياليتوب ناممکنه دی. تراوسه د بشر په تاريخ کې ينځه ډوله انقلابونه سرته رسيدلي دي، اجتماعي، سياسي، کلتوري، صنعتي او ديني انقلابونه.

عيني شرايط:

هغه شرايط چې په ټولنه کې ليدل کيږی د عيني شرايطو په نوم يادېږي لکه لوږه، بربنډتوب، بې کوري، بې کاري او داسې نور.

ذهني شرايط:

کله چې د يو هېواد اوسيدونکي بدبختي او د خپلو بدبختيو عوامل شعوراً درک کړي او د دې بدبختيو د له منځه وړلو له پاره په فکر کې شي، ذهني شرايط بلل کېږي

امپراتوري:

هغه هېوادونه چې لاندې خصوصيات ولري،امپراتوري بلل کېږي.
۱) د ځمکې مساحت يې زيات وي، نفوس يې ډير او قدرت يې لايتناهي وي او پر څو مختلفو نژادونو، ملتونو او قدرتونو تسلط او حاکميت ولري. هغه هېوادونه چې د زيات قدرت خاوندان وي، په نورو ملتونو نظامي يرغل وکړي او د هغوی ځمکې تسخيروي او د ځان ملکيت يې ګڼي. د تسخير شويو هېوادونو اوسيدونکي د خپل حاکميت تابع کوي او هڅه کوي چې خپل کلتور ورباندې تحميل کړي، معمولاً امپراتوري د مختلفو نژادونو، ملتونو، قومونو او کلتورونو مجموعه ده،چې تر يو حاکميت لاندې راولي.
۲) د دغه ډول هېوادونو په جوړښت کې يوه قبيله او يا يو ملت په نورو قبيلو او ملتونو حکومت کوي او د دوی دغه ډول اتحاد په زور متکي وي.
۳) د امپراتورۍ سياسي بنياد د يو سړي(امپراتور) په واک کې وي او ټول محلي قدرتونه دده تابع وي.
ځينې امپراتورۍ ټول پورتني خصوصيات نه لري، خو ځيني يې بيا دغه ډول خصوصيات لري. د روم امپراتوري، د غزنويانو او په منځنيو پيړيو کې د مغلو، عربو او ترکانو امپراتوريو پورتني خواص درلودل.
اپارتايد
مانا يې بېلتون او جلاوالي دي له اره دغه اصطلاح دنژدي تو پير لپاره کارول کيږي. دا هغه نوم دي،چې د سويلي افريقا حکومت په خپل توکميز تعبيضه نظام باندې ابښي دي،دغه نظام سپين پوستو ته،چې دټولنې يو پر پنځه برخه تشکيلوي اجازه نه ورکوي،چې په خلکو حکومت وکړي..
اداک
ټاپو يا جزيرې ته اداک هم وايې
ارتيزن
يوډول څاه ده چې دفزيکي لارو چارو پربنسټ دهغه اوبه پخپله دباندې راوزي.
اريا
د سپين نژاد ډېرلوی ښاخ دی ،چې په اسيا او اروپا کې په ډېره کچه تيت دي.
ارکتيک
د شمالي قطب ځمکې دارکتيک په نامه يادېږي.
انتارکتيک

دجنوبي قطب ځمکې دانتارکتیک په نامه یادیږي.
اسکیمویان
دشمالي امریکااوشمال ختیځې اسیادسړو قطبي سیموځایې(بومي ) اوسیدونکي دي.
ایکولوژي:
هغه علم چې دانسانانو ،نباتاتو اوحیواناتواړیکې دطبیعي چاپیریال سره مطالعه کوي.
ابریز:
یوه ځمکه چې دشاوخواسیمې دباران اوبه په کې راټولې شي اوراټولې شوې اوبه دسیند په واسطه په سمندر،سمندرګي اویاجهیل کې توی شي.
ابشار
له پاس ځخه ښکته په مستقیم ډول یاپه ډېرځوړي دسینداوبوراتوئیدوته ویل کیږي.
ابشاردسینداوبودجریان په مسیرکې دکلکوډبرودموجودیت له مخې جوړیږي.
استرایدونه
هغه کوچني اجرام دي،چې په عمومي ډول دمریخ اومشتري دمدارترمنځ دلمرپه شاوخواګرځي. ددې اجراموسرچینه چې شمېر یې ۱۵۰۰ ته رسیږي تراوسه پېژندل شوې دي.
ایزوبات
هغه کرښې چې په نقشه کې مساوي ژوروالی نقطې سره نښلوي.
ایزوبار
هغه کرښې چې په نقشه کې داتموسفیردفشارمساوې نقطې سره نښلوي یاښایې.
ایزوترم
هغه کرښوته ویل کیږي چې په نقشه کې یوشان تودوخې لرونکې سیمې سره نښلوي.
ایزوهایت
هغه کرښې چې په نقشه کې په ټاکلي وخت کې دمساوي اورښت لرونکې نقطې سره نښلوي.
انفلاسیون
په یوه هېوادکې دمروجوپیسوبې تناسبه زیاتوالی اویاداقتصادي اړتیاوو په نسبت داعتباراتو بې تناسبه زیاتوالی ګڼل کیږي. ددې زیاتوالې په پایله کې دپیسوارزښت ښکته راځي
اقیانوس
دیوناني ژبې ځخه اخستل شوې چې دلوی سمندرپه مانادی.

**الجزيره**

هغه ځمکه چې ددوو رودونو ترمنځ پرته وي لکه:په ايران کې داباد ان سيمه

**امپراتوري حکومت**

هغه حکومت چې واکمن يې سربېره پريوه هېواد پرنورو هېوادونوهم واکمني ولري.

**اوج**

دلمرڅخه دمځکې دکرې ترټولولېرې ځاى ته اوج وايې.

**الپي يخچالونه :**

الپي يخچالونه يا ټول هغه يخچالونه چې دنړۍ په غرنيزو علاقو او ناوونو کې را منځ ته کيږي په همدي نامه يادېږي.

**انتي کلاين:**

د ځمکې دمخ لوړي برخي لکه د سمندرونو په وړاندي لوي وچې او په لويو وچو کې غرونه Amazonas River په جنوبي امريکا د برازيل په هيواد کې ديو سيند نوم دي.

**اقليم پيژندنه :**

د يوي سيمي د جوي پديدو منځني حد د مطالعي څخه عبارت دي چې په ټاکلي وخت او ټاکلي ځاي کې ځانګړي خاصيت غوره کوي. او د جيولوژيکې دورو په اوږدو کې د بدلون په حال کې وي.

**اقليمي نقشې**

دهغو نقشو څخه عبارت دي چې د يوي سيمي د هايدرو ګرافي شبکې او د جوي عوارضو پوهيدنه اسانه ،او هم د ځمکې د کري مختلفي اقليمي سيمي را په ګوته کوي

**ايسبرګ**

د کنګلونو هغه لوي کتلي چې په سمندرونو کي دشمال څخه مخ په جنوب د حرکت په حال کې دي.

**اتش فشان :**

هر کله چې د ځمکي داخلي کړنو په نتيجه کې يو مقدار لاوايي مواد د لوړ حرارت او لوړ فشار په پايله کې د ځمکي د سطحي ته را ووځي د اورشيندونکو څخه عبارت دي.

بیابان

دځمکې دسطحې يوه برخه چې دکم اورښت لرونکې وي يانې دکلنۍ اورښت اندازه يې د100mm څخه کم وي او دتبخير اندازه يې زيات وي ، په داسې سيموکې بوټې دشنه کېدو توان نه لري.

بوميان

هغه خلک چې ديوې سيمې دلومړنيو اوسيدونکو په توګه پېژندل شوې وي.

بادونه :

د ځمکي د کرې د اتموسفير افقي او عمودي حرکت ته باد ويل کيږي چې د ځمکي دمخ د مختلفو برخو د نا انډول ګرميدو او د لوړ او ټيټ فشار د را منځ ته کيدو په نتيجه کې را منځ ته ياد لوړ فشار د مرکز څخه د ټيټ فشار په لور چليږي.

بړاس

دمايع دفزيکي حالت بدلون په بړاس باندې دبړاس په نوم ياديږي.

باتلاق

هغه سيموته وايي ،چې زياتې اوبلنې وي اوزياتره په شګواوډبروپوښل شوي وي، اوهغه وابنه په کې شنه کيږي چې لنده بل ته اړتياولري.

باد

دلوړ فشارد سيمې څخه دټيټ فشارد سيمې په لوردهواافقي خوځښت ياحرکت ته بادويل کيږي.

بډۍ

هغه پسته اوبې بنسټه ځمکه چې دسيند په غاړه کې هرمهال اوبو ته لويږي.

بستر

هغه ځای چې درود اوبه دهغه پرمخ بهيږي.

بلوف

هغه ځوړې(نشيبونه)چې دسيندپه دواړوغاړوکې ترډېره دقايمې زاويې په ډول منځته راځي. لکه: دتاشقرغان تنګی اويادوريښموتنګی

بلوهل

کوچني سوري دي، چې د سیند په غاړه یا د سیند په څنډو کې منځته راځي.

بوګري

هغه ځمکه چې د وخت حاکم له خوا خلکو ته د چوپړ په بدل کې ورکول کیږي.

پ

پګمي

د افریقا اصلي (بومي) اوسیدونکې چې ټیټ قدې او سور پوستکې درلودونکي دي چې په استوایي او باراني ځنګلونو کې ژوند کوي.

پامپاس

دجنوبي امریکا دډېرو اولوړو وښو لرونکو جلګو ته ویل کیږي ،چې دجنوبي امریکا په منځنیو عرض البلدونو کې داتلانتیک له سمندر څخه داندیز ترغرونو پورې غزیدلې ده اودبرازیل دجنوب تراوروګوای اوارجنټاین پورې پرته ده ، اوس ددې جلګو پراخه سیمې دغنمو ،جوارو ،وریجو اوکتان کروندې نیولې دي اومالداري هلته ډېره پراختیا موندلې ده.

پارلمان: Parliament

په دیموکراتیکو او هغه هیوادونه کې چې د دولت درې ګونو قواوو په بېلوالي عقیده لري، پارلمان د قانون جوړولو ، وضع کولو ، تصویب او اجرا له پاره د نظارت د ټولو نه لوړ ملي ارګان دی. د پارلمان یا مقننه قوې نماینده ګان معمولاً د مستقیمو پټو او عمومي انتخاباتو له لارې انتخابیږي. پارلمان د خلکو د حاکمیت یا د ډیموکراسی سمبول بلل کېږي او اجرائیه قوه یا حکومت ورته مسؤولیت لري. پارلمان په اکثره ممالکو کې له دوو مجلسو څخه متشکل وي چې یو یې مستقیماً د خلکو له خوا انتخابیږي چې زموږ په هېواد کې دغه مجلس د ملي شورا په نامه یادیږي. چې یوه برخه یې د اولسی جرګی او بله برخه یې د مشرانو جرګی په نامه یادیږی. په انګلستان کې د عوامو مجلس، په امریکا کې د نماینده ګانو مجلس، په فرانسه کې ملي اسامبله او په هند کې لوګ سبا له دې مجلس څخه عبارت دی. د پارلمان بل مجلس د سنا مجلس دی چې زموږ په هېواد کې د مشرانو د جرګې په نوم یادیږي. ددې مجلس غړي په ځینو هېوادو کې په مستقیمه توګه او یا د محلي نماینده ګانو له خوا او په ځینو هیوادونو کې یوه برخه د خلکو او د خلکو د نماینده ګانو او یوه برخه بیا د پاچا ، جمهور رئیس او نورو مشرانو له خوا په انتصابي شکل مقرریږي. د جمهور رئیس، صدراعظم او د قوانینو د ترمیم او تصویب په باره کې د مختلفو هېوادونو په اساسي قوانینو کې د پارلمان صلاحیت او حدود معلوم وي. څومره چې د ملت د سیاسي او

اجتماعي پوهې سطحه لوړه شي، په هماغه تناسب د پارلمان انتخاب شوي غړي د ملت د ګټو ساتندوی وي او د اکثریت نماینده ګان وي. د پارلمان غړي په انتخابي دوره کې د سیاسي مصئونیت لرونکي وي.

پرخه

داوبوهغه ځاځکي چې زیاتره دشپې له لورې پرسمسورو ،زرغونو او وچو ځمکو لویږي.

پرولتاریا

هغه حکومت چې دهغې په رامنځته کېدو کې کارګران اغیزمنه ونډه ولري.

ت

توپوګرافي:

توپوګرافي له دوویوناني کلیمو څخه اخیستل شوي یعنې(توپو ) دځای په معنااو(ګرافي ) درسمولو یاتشریح په مفهوم ،چې دهرې سیمې دطبیعي یامصنوعي جوړښتونو رسمولو یاښوولو ته توپوګرافي ویل کیږي.

تروپیک(استوایي اب هوا )

هغه اب هوا چې داستوا دکرښې دشمالي عرض البلدد پنځو درجو اودجنوبي عرض البلددلسو درجو( دسمندرونو دشتوالي له امله) ترمنځ شته ، دهغو له ځانګړتیاو څخه دکال په اوږدو کې یوشانته زیاته تودوخه ، دځانګړو فصلونو نشتوالی، اوډېر باران دی. لمردکال په اوږدوکې تل عمود اویاعمود ته نږدې لګیږي ، همیشنی لنده بل اوګڼ ځنګلونه ددې اب اوهوا نورې ځانګړتیاوې دي.

تکتونیک

دځمکې دننه ټولوقواوو ته ویل کیږي، چې دځمکې په قشرکې دطبیعي پدیدو دمنځته راتلو لکه اورغورځونې ،زلزلې اونورو دمنځته راتلو سبب کیږي.

تمدن

ښاري کېدل، دښاري دودونو اودستورونو سره عادت کول اوخپل دهوساینې اوپرمختګ دوسایلو برابرولو ته تمدن وایې.

توریست

له تاریخي پلوه دفرانسې اشرافو بچیانو ته چې دزده کړې اودژوندانه دتجربو دحاصلولو لپاره به په سفر تلل ،توریست ویل کیده ، دتوریست اصطلاح د ۱۹ پېړۍ راهیسې رواج شوې اووروسته داصطلاح په فرانسه کې دهغه چاپلپاره په کاریوړل شوه چې دتفریح اودخپل

وزګار وخت دتېريدلو لپاره به يې په فرانسه کې سفر کاوه دغه ډول سفرونو ته وروسته دنړۍ ګرځيدونکو ياتوريزم اصطلاح استعمال شوه.

ترانزيت

دTraitus له کليمې څخه اخستل شوی چې مانايې تېريدل دي يعنې دهېوادونو ترمنځ ديوه ستېيشن څخه بل ستېيشن ته دمالونو او مسافرينو انتقاليدل دي.

تندرا

روسي کليمه ده چې دروسيې دشمال له ونو پرته سيمو ته ويل کيږي چې ژمی يې سوړ او اوږد دی، اوړی يې ډېر لنډ او دتودوخې درجه يې دلسو درجو څخه کښته وي، په همدې لنډه موده کې دځمکې دمخ کنګلونه ويلې کيږي او نباتات لکه خزه او ګلسنګ وده کوي.

توپوګرافي نقشه

عبارت د هغې نقشې څخه ده چې د هغې پر مخ د ځمکې د ګړې برخې دا ډول تصوير موجود وي چې د هغه له مخې د ځمکې د مخ لوړې او ژورې لکه غرونه، سيندونه، درې، لارې، د کرنې ځمکې او نور معلومېږي

توريزم

هغه خلک چې دسفرامکانات لري اودخپل فراغت وخت په يوه بله سيمه کې تيروي دسيلانيانو(توريستانو ) يانړۍ ګرځيدونکوپه نوم يادېږي،هغه هېوادونه چې ښې توريستکي سيمې ولري او دسيلانيانو دراکښلو سبب ګرځي ،زياته شتمني لاسته راوړي.

تکتونکي ساحه

دځمکې په پوټکي کې يوه ساحه چې په هغه ځای کې ډول ډول جوړښتونه لکه لوړې برخې،ټيټې برخې،ګونځې،درزونه، چاودونه او داسې نور جوړشوي وي.

ترانزيت

دTraitus له کليمې څخه اخستل شوی چې مانايې تېريدل دي يعنې دهېوادونو ترمنځ ديوه ستېيشن څخه بل ستېيشن ته دمالونو او مسافرينو انتقاليدل دي.

تروپيک(استوايي اب هوا )

هغه اب هوا چې داستوا دکرښې دشمالي عرض البلددپنځو درجو اودجنوبي عرض البلددلسو درجو( دسمندرونو دشتوالي له امله) ترمنځ شته ، دهغو له ځانګړتياو څخه دکال

په اوږدوکې یوشانته زیاته تودوخه ، دځانګړو فصلونو نشتوالی، اوډېر باران دی. لمرکال په اوږدوکې تل عمود اویاعمودته نږدې لګیږي ، همیشنی لنده بل اوګڼ ځنګلونه ددې اب اوهوا نورې ځانګړتیاوې دي.

تکتونیک

دځمکې دننه تړولوقواوو ته ویل کیږي، چې دځمکې په قشرکې دطبیعي پدیدو دمنځته راتلو لکه اورغورځونې ،زلزلې اونورو دمنځته راتلو سبب کیږي.

تمدن

ښاري کېدل، دښاري دودونو اودستورونو سره عادت کول اوخپل دهوساینې اوپرمختګ دوسایلو برابرولو ته تمدن وایي.

تکتونکي جهیلونه:

هغه جهیلونه چې په تکتونیکي جوړښتونو کې را منځ ته شوي وي لکه داورلګین جهیل په امریکا کې.

توریست

له تاریخي پلوه دفرانسې اشرافو بچیانو ته چې دزده کړې اودژوندانه دتجربو دحاصلولو لپاره به په سفر تلل ،توریست ویل کیده ، دتوریست اصطلاح د ۱۹ پېړۍ راهیسې رواج شوې اووروسته دااصطلاح په فرانسه کې دهغه چالپاره په کاریوړل شوه چې دتفریح اودخپل وزګاروخت دتېریدلو لپاره به یې په فرانسه کې سفر کاوه دغه ډول سفرونو ته وروسته دنړۍ ګرځیدونکو یاتوریزم اصطلاح استعمال شوه.

تندرا

روسي کلیمه ده چې دروسیې دشمال له ونو پرته سیمو ته ویل کیږي چې ژمی یې سوړ اواوږد دی، اوړی یې ډېر لنډاودتودوخې درجه یې دلسو درجو څخه کښته وي، په همدې لنډه موده کې دځمکې دمخ کنګلونه ویلي کیږي اونباتات لکه خزه اوګلسنګ وده کوي.

تنګی

هغه سیمه چې ددوو غرونو ترمنځ پرته وي،پراخوالی یې کم وي اودتګ اوراتګ لپاره ورڅخه ګټه واخیستل شي،تنګی بلل کیږي.

تراس

هغه افقي اوارې ساحې ته ویل کیږي چې دسیند یادرې په غاړه پرتې وي.

ټرانسپورټیشن

د سیندونو په واسطه د یو ځای څخه بل ځای ته د مخروبه موادو لیږدیدونه.

ټاپووزمه(جزیره نما )

دوچې یوه برخه ده چې په اوبوکې ننوتلې وي اودریو خواوته یې اوبه وي.اویوې خواته یې وچه وي.

ټاپو(جزیره )

دوچې یوه ټوټه چې څلورخواووته یې اوبه وي د سمندر، سمندرګیو، جهیلونو اوسیندونو په منځ کې پرته وي.

ټبر

کورنۍ، ختې، اصل، نسب اونژادته وایې

## ج

جیولوجیکي نقشې

د جیولوژیکې هغو نقشو څخه عبارت دي چې د یوې سیمې ټولې جیولوژیکې ځانګړنې او جوړښتونه برسیره کوي.

جیولوجي

ځمکپوهنه د هغه علم څخه عبارت دي چې د ځمکې د ترکیب ، پیدایښت، منشا او نورو بدلونونو څخه بحث لري.

جهیل

ډېرې پراخې ولاړې اوبه دي چې په طبیعي حالت باندې دوچې په واسطه چاپېر شوي وي.

جبې

هغه ټېټه سیمه چې زیات لنده بل ولري اومعمولا اوبیزه بوټي اوواښه په کې شنه شوي وي اود ډنډونو برخلاف په اوبونه وي پوښل شوي.

جنوبي نیمه کره

د استوا کرښې نه ترجنوبي قطب پورې جنوبي نیمه کره بلل کیږي.

جنوبې لرغونې وچه ګاندونا: ګاندوا نا هغه لرغونې وچه ده چې د هند او عربستان ټاپووزمې پکې شاملې وې

خو اوس زیاته برخه یې د ګنګنا -- سند او هند سمندر اوبو لاندې کړې ده

**جلګه**

جلګه دځمکې هغه هواره برخه ده چې ډیر کم میلان سره په سیندونو پا ې ته رسیږي او دسیندونو د سطحې څخه ۲۰۰مترو څخه کم لوړوالې ولرې

**جمهوري**

هغه حکومت چې په هغه کې ددولت مشرد خلکو لخوا دیوې ټاکلې مودې لپاره غوره شي.

**جلګه**

جلګه دځمکې هغه هواره برخه ده چې ډیر کم میلان سره په سیندونو پا ې ته رسیږي او دسیندونو د سطحې څخه ۲۰۰مترو څخه کم لوړوالې ولرې

**جبې**

هغه تېږه سیمه چې زیات لنده بل ولري اومعمولا اوبیزه بوټي اوواښه په کې شنه شوي وي اودډنډونو برخلاف په اوبونه وي پوښل شوي.

**جهیل**

ډبرې پراخې ولاړې اوبه دي چې په طبیعي حالت باندې دوچې په واسطه چاپېر شوي وي.

**جنوبي نیمه کره**

داستوا کرښې نه ترجنوبي قطب پورې جنوبي نیمه کره بلل کیږي.

**جنوبي قطب نقطه**

دځمکې دکرې وروستۍ جنوبي نقطه ده چې دځمکې دمحورجنوبي وروستۍ برخه کې پرته ده.

**جهیل**

پراخ ولاړو اوبوته چې دوچې په واسطه په طبیعي توګه راچاپیره شوې وي یعنې څلورو خواوته یې وچه وي ،جهیل ویل کیږي.

**جباړه**

دواورې اواوربښت ګډې اوریدنې ته جباړه وایي.

چ

**چینې :**

د ځمکې د سطحې لاندې هغه مقدار او بو څخه عبارت دي چې د مختلفو لارو او لاملونو له امله د ځمکي سرته را وځي ،او د چیني په نوم یادیږي.

چنګاښ(سرطان) کرښه

د چنګاښ کرښه د استواله کرښې سره موازي،د استواد کرښې په شمال کې په ۲۳،۵ درجو ترسیم شوې ده،دې کرښې ته ځکه د چنګاښ کرښه وایې چې د چنګاښ د میاشتې په لومړۍ نېټه دلمر وړانګې د دې کرښې د پاسه په مستقیم ډول راځي،په دې وخت کې په شمالي نیمه کره کې اوړی او ورځې اوږدې وي، په جنوبي نیمه کره کې ژمی وي او شپې اوږدې وي.

ح

حضیض

کله چې ځمکه په خپل انتقالي حرکت کې چې دلمر په چاپېره ګرځي ،هغه وخت چې د ځمکې او لمر واټن ډېر نزدې شي د حضیض په نامه یادیږي.

حکومت:

د دولت په چوکاټ کې هغه اجرائیوي ارګان دی چې د مقرراتو او قوانینو تطبیق یې په غاړه وي. حکومت هغه اجرائیوي ارګان دی چې د دولت د قدرت او حاکمیت ښکارندوی وي. حکومت یا انتخابي وي یا انتصابي. نور مؤسسات هم اجرائیوي ارګانونه لري، خو په دې توپیر چې د یوه دولت حکومت د حاکمیت د اعمال صلاحیت لري او د نورو مؤسساتو د اجرائیوي ارګانونو سره دا صلاحیت نشته.

حاکمیت:

د یو هېواد په داخلي قلمرو کې د انحصاري صلاحیت څخه عبارت دی. همدارنګه په بین المللي چارو کې د یوه هېواد د عمل واکمنتوب دی چې د بل هېواد د حقوقي کنترول او تاثیر لاندې وي او یا په بل عبارت، حاکمیت د دولت هغه عالي قدرت دی چې هم قانون وضع کوي او هم یې تطبیقوي او د هغې نه بل لوړ قدرت نشته.

د حاکمیت مهم مفاهیم په لاندې ډول دي:

1 ) د قانوني سیستم مطابق د قوانینو د وضع کولو او اصلاح کولو اختیار.

2 ) ۲) د دولت سیاسي او اخلاقي قدرت.

3 ) ) د یوې ټولنې سیاسي او قضایي استقلال.

4 ) حاکمیت په دوه ډوله دی:

5 ) الف: داخلي حاکمیت

6 ) ب: خارجي حاکمیت

7 ) ـ ټول هغه قدرت چې یو دولت یې په خپلو اتباعو، د خپل هېواد په اوسیدونکو، خارجیانو او په بحرونو کې په خپلو بحریو لري، داخلي حاکمیت بلل کېږي.

ـ په خارجي حاکمیت کې د نورو سره د تړونونو لاسلیک کول، د نورو هېوادونو سره د روابطو لرل او د نورو هېوادونو سره د جنګ او سولې اعلان راځي.
داخلي حاکمیت په سیاسي او قضایي حاکمیت ویشل کېږي.
سیاسي حاکمیت هغه عالي قدرت دی چې په هره سیاسي ټولنه کې موجود وي.
سیاسي حاکمیت هغه قدرت دی چې په قضایي څارنه کې پټ وي.
یو دولت ښایي داخلي حاکمیت ولري، خو خارجي حاکمیت یې بیا د بل چا په واک کې وي. دغه ډول هېوادونه تحت الحمایه بلل کېږي.

ځ

**ځمکې محور**

هغه فرضي کرښه ده چې د ځمکې شمالي او جنوبي قطبین سره وصلوي او د ځمکې له منځ څخه تیریږي چې د ځمکې کره د هغې په چاپېره ګرځي.

**ځمکې د محور میلان**

د ځمکې د محور میلان د ۲۳ نیمو درجو په زاویه د ځمکې د مدار پر مستوي باندې ده.

**ځمکې لاندې اوبه:**

د ځمکې د سطحي لاندې اوبو سطحه چې د کال په مختلفو فصلونو کې مختلف حالت ځان ته غوره کوي یعني په باراني موسمونو کې د اوبو سطحه لوړ. برعکس په وچو فصلونو کې ټیټه وي.

**ځمکې د مخ اوبه:**

د ځمکې د سطحي اوبه لکه سیندونه، جهیلونه، سمندرونه، سمندرګي جبه زاري او داسې نور

**ځمکه ---- Earth**

ځمکه دلمریز نظام دسیاراتو له ډلې شمېرل کېږي چې دلویوالي په لحاظ پنځه درجه او نژدیوالي په اساس دریمه سیاره ګڼل کېږي همدغه مناسب موقیعت دي چې چې( الله ج )دټولو ژوندیو موجوداتو ژوند کولو لپاره زمینه برابره کړې ده او پنځه ډوله حرکتونه لري

ځوان غرونه

هغه غرونه چې دجیولوجي په دریمه دوره کې منځته راغلي وي. داغرونه لوړ، غاښي غاښي ،زیات ځوړې، تېرې څوکې اوژورې درې لري لکه: په افغانستان کې دهندوکش غرونه ،په امریکاکې دراکي او اندیز غرونه اوپه اروپاکې دالپ دغرونو لړۍ دي.

ځړوبې (ابشار)

دلوړو څخه ګښته داوبو راتویدلو ته وایې چې دسیندونو په بهیر کې منځته راځي لکه: دانجیل ځړوبې ،دونزویلا په هېوادکې.

ځمکې محور

هغه فرضي کرښه ده چې ځمکې کره دهغې په چاپېره ګرځي.

ځمکې دمحور میلان

دځمکې دمحور میلان د ۲۳ نیمو درجو په زاویه دځمکې دمدارپرمستوي باندې ده.

ځ

څرځای

هغه ځمکه چې ډېر بوټي په کې شنه کیږي ،چې څاروي کولای شي یوه موده په کې وڅریږي.

څوکه

دغره ډېر لوړې نقطې ته څوکه وایې .لکه دبابادغره لوړه څوکه چې شاه فولادي نومیږي.

څپې:

دسمندرونو یادسمندرګیو داوبو یوه برخه چې دبادونو دلګیدو په سبب په حرکت راځي اودسواحلو خواته پرمخ ځي، دڅپې لوړې برخې ته اوج اوټیټې برخې ته یې نشیب وایې.

خ

خلیج

په وچه کې د پراخوا وژورو او به مخکې تنګ دی ،چې درې خوا وو ته یې وچه او یوې خوا ته یې او به چاپېره شوې وي.

**خاکنا**

دوچې یوه تړانګه چې دوه وچې یو له بل سره ونښلوي اودوه سمندرونه یا او به سره جلاکړي. لکه دپانامې خاکناچې شمالي او جنوبي امریکا سره نښلوي.

## د

**دماغه**

هغه نقطه یا سیمه چې دوچې څخه دبحرپه لوروتلې وي، چې دراس په نوم هم یادیږي

**دره یې یخچالونه:**

دره یې یخچالونه یا هغه یخچالونه چې د غرنیزو سیمو په درو او ناونو کې را منځ ته کیږي.

**دیموګرافي**

دیوناني کلېمې Demos(خلک) او Graph( ترسیم) څخه ترکیب شوې چې دنفوسو دطبیعي زیاتوالې،هجرت،جنس،عمر،کسب اوکارې ځانګړتیاو دمطالعې څخه عبارت دي.

**دیون**

دشګولوی اوواړه ډیري چې په صحرایې اودښتې سیموکې دبادونودانتقال په واسطه یې رسوب کړی وي.

**د ره ---- valley**

دره دځمکې هغه سمسوره او اباده سیمه ده چې ددوو غرونو په منځ کې اوږده غزیدلې او سیندونو او خوړونو د رلودونکې وي دمثال په توګه په کابل کې دپغمان دره په ننګرهار کې دره نوردره په کنړ کې مزار دره دیوګل دره او په پروان کې دغوربند دره او داسې نور. او په جغرافیایې اصطلاح کې ورته وادي هم وایې

**دبت:**

داوبواندازه چې له سیندڅخه په یوه ټاکلې وخت کې له یوې ټاکلې نقطې څخه تیریږي اودسینددا وبو دحجم داندازه کولو لپاره ورڅخه استفاده کیږي.

**دلتا**

دسیندخوله یادسیندپه خوله کې درسوبي موادویوه سیمه چې دځمکې هواریدو اودسیند دڅانګه کیدو سبب ګرځي.

دولت:

دولت هغه سیاسي سازمان دی چې د خپلو وګړو په ارادو باندې بشپړ حاکمیت لري، حاکمیت، قدرت او قانوني انظباط د ځان حق ګڼي او خپل انحصار یې بولي او د خلکو د احتیاج پر بناء په عالي سطحه منځ ته راغلی وي. لاندینې شرایط او صفتونه د دولت له نورو سازمانونو څخه جلا کوي.

۱.محدوده جغرافیایي سیمه:

هغه سیمه چې سرحدات یې تعین وي او د هغو سرحداتو په قلمرو کې حکومت د کافي صلاحیت خاوند وي، د سیمې کوچنیوالی او پراخوالی شرط نه ګڼل کېږي.

۲. دولت باید داسې حکومت ولري چې د حاکمیت د عملي کولو طاقت او توان ورسره وي او په بین المللي تعهداتو کې د اعتبار وړ وي، نمونه او شکل یې د بحث وړ نه دی.

۳. د ولس یا اوسیدونکو شته والی، بې له دې چې لږوالی او زیاتوالی یې په نظر کې ونیول شي.

۴. د حاکمیت صلاحیت(د دولت عالي قدرت په داخل کې او بهرنی واکمنتوب) په دیموکراتیک دولت کې د قواوو ( مقننه، اجرائیه، قضائیه) تفکیک اساسي شرط ګڼل کېږي.

ر

ریښتر

دزلزلې دشدت داندازه کولوواحد دی چې په ۱۹۲۵ م کال کې دRichter په واسطه چې دکلفورنیادتکنالوژي دانستیتوت کارپوه وه پیژندل شوې.

رژیم

روش،طریقه اوترتیب

رسوب

هغه موادچې دسیندونو،یخچالونواویادبادپه واسطه راوړل شوی وي اورسوب یې کړی وي،اکثرارسوبونه دسیندونواویالوپه بسترکې ځای پرځای کیږي.

ریفرنډم:

ریفرنډم د سیاسي ډیموکراسۍ یو اصل دی او د یو سازمان ټولو غړو ته او یا د ټول ملت

اراوو ته مراجعه کول، ریفرنډم نومیږي. په ریفرنډم کې پیشنهاد شوې موضوع د ملت له خوا د مستقیمې رایګیرۍ له لارې منل کیږي او یا ردیږي. عمومي اراوو ته د مراجعې له لارې یوه ټولنه کولی شي خپل هېواد د نامطلوبو او زیان لرونکو قوانینو له وضع کولو څخه وژغوري.
ریفرنډم په دوه ډوله دی:
1_اختیاري ۲_اجباری
له اجباري ریفرنډم څخه معمولاً د اساسي قانون او د هغه متممو قوانینو د تصویب له پاره استفاده کیږي. همدارنګه د عادي قوانینو د وضع کولو په مورد کې هم کله کله د اساسي قانون په رڼا کې اجباري ریفرنډم ته مراجعه کیږي. د ځینو هېوادونو د پارلمان د مجلسونو نماینده ګان کله کله د یوې مسئلې یا کشالې د حل له پاره د اختیاري ریفرنډم له لارې د ملت ارائو ته مراجعه کوي. زموږ په هېواد کې د لویو جرګو جوړولو او رابلل د ریفرنډم حیثیت لري.
راس
یوه نقطه یا هغه ټوټه ځمکه چې له ساحل څخه په سمندر کې مخکې تللي وي د راس په نوم یادیږي لکه :هورن راس د جنوبي امریکا په جنوب کې
ز
زاړه غرونه
هغه غرونه چې د پالیوزویک په دوره کې منځته راغلي دي لږ لوړوالی ، ګنځې بڼه، لږ ځوړې، لږې ژورې او درې لري. لکه په شمالي امریکا کې دا پلاش غرونه
زلزله
د ځمکې د ټکانونو څخه عبارت دي چې په په زیات ګمان د ځمکې د اخلي کتلو د توازن نه شتون له کبله را منځ ته او د ځمکې د مخ د خوځیدو او ټکانونو سبب او مختلف لاملونه لري
ژ
ژمي شمسي انقلاب
داانقلاب هغه وخت رامنځته کیږي چې دلمروړانګې جدي په کرښې (جنوبي ۲۳نیمو درجو )باندې دژمي په لومړي نېټې باندې رامنځ ته کیږي، چې په شمالي نیمه کره کې ژمی پیل کیږي.

# س

سیاسي رژیم

په سیاسي ډول دهېواد اداري حالت

سب تروپیک :

تحت استوایي اقلیمي سیمي چې د استوا د کرښې ذواړو غاړو کې د **۵** درجې څخه په پورته عرض البدونو کې موقعیت لري.

سونامي :

په سمندرونو کې تر ټولو ورانونکي څپې چې د زلزلې په ځانګړي ډول د سمندرونو د تل د بې ځای والي په پایله کې را منځ ته کیږي. چې د وچو په غاړو کې د زیاتو مالي او ځاني تاوانونو سبب ګرځي.

سسپینشن:

د سیندونو معلق بار لکه سودیم کلوراید ، اهکي او کاربونیتي مواد چې د $CO_2$ ګاز په موجودیت کې په اوبو کې منحل او اوبو سره په منحل ډول لیږدول کیږي.

سمندرګی: دپراخواوبویوې برخې ته وایې چې دسمندروړوکی وي، ځیني وخت دسمندر سره نښتې وي. اوکله کله دوچې په واسطه چاپېر شوي وي.

سوانا:

اقلیمي سیمه ده چې بوټي ،نیزارونه اوټیټې ونې لري.

سیندحوزه

هغه سیمه چې هلته اصلي سیند دخپلو ټولو مرستیالانو سره بهیږي.

سیند

داوبو بهیدلو ته چې په طبیعي توګه ټول کال یادکال په یوه موده کې په یوه لورې رواني وي ،سیندبلل کیږي. سیندونه معمولا دسمندرګیو ،سیندونو،سمندرونو،

جهيلونو ،باتلاقونو يانورو سيندونو په لوربهيږي ،هغه تګ لورې ته چې سيندبهيږي ، سيندورته ويل کيږي.

**سمندري بندر**

د سمندر پرغاړه ښاردی، چې بيړۍ هلته لنګراچوي اود سوداګريزو مالونو وړل اوراوړل هلته ترسره کيږي.

**سمندري بهير**

د سمندر د سطحې داوبو سورو(عريض)بهير دی،چې په دوه غوره برخو ،تودو اوسړو اوبو ويشل کيږي ديوبهيرلپاره دسړو اوتودو اوبو دبهيراصطلاح استعمال دشاوخوا داوبو دحرارت په پرتله دي.لکه دګلف ستريم اوکوروشيو دتودو اوبو بهير اودهامبولت(پيرو ) ، لابرادور اومنګويلاد سړو اوبو بهير.

**ساحل**

د سيند داوبو د سطحې اودوچې ځمکې ترمنځ ګډه پوله ده يا داوبو اووچې ترمنځ بيلوونکی حد دی.

**سرچېنه**

هغه ځای چې سيندورڅخه پيل کيږي.

**سب تروپيک**

هغه اب اوهوا چې په اوړي کې وچه اوپه ژمي کې مرطوبه اومعتدله وي.

**ستراتيژيکه سيمه**

دهغې سيمې څخه عبارت ده چې د سياسي ،نظامي او اقتصادي پلوه ځانګړی ارزښت ولري.

**سيندحوزه**

هغه سيمه چې هلته اصلي سيند دخپلو ټولو مرستيالانو سره بهيږي.

**ستېپ اقليم**

وچ اقليم چې په دوبې کېډلنډې مودې باران ولري.

**سمندري بندر**

د سمندر پرغاړه ښاردی، چې بيړۍ هلته لنګراچوي اود سوداګريزو مالونو وړل اوراوړل هلته ترسره کيږي.

**سمندري بهير**

دسمندر دسطحې داوبو سورو(عریض)بهیر دی،چې په دوه غوره برخو ،تودو اوسړو اوبو ویشل کیږي دیوبهیرلپاره دسړو اوتودو اوبو دبهیراصطلاح استعمال دشاوخوا داوبو دحرارت په پرتله دي.لکه دګلف ستریم اوکوروشیو دتودو اوبو بهیر اودهامبولت(پیرو) ، لابرادور اومنګویلادسړو اوبو بهیر.

ساحل

دسیند داوبو دسطحې اودوچې ځمکې ترمنځ ګډه پوله ده یاداوبو اووچې ترمنځ بیلوونکی حد دی.

سمندرګی

دپراخواوبویوې برخې ته وایې چې دسمندرورکی وي، ځیني وخت دسمندر سره نښتې وي. اوکله کله دوچې په واسطه چاپېر شوي وي.

سوانا

اقلیمي سیمه ده چې بوټي ،نیزارونه اوټیټې ونې لري.

سوړاقلیم

هغه اقلیمي ساحه چې دتوندرااقلیم ،دواورو اقلیم اودلوړو غرونو داقلیم لرونکې ده.

سیاسي جغرافیه

دجغرافیې یوه برخه چې دهیوادونو دسرحدونو اوځلورخواوو،کورنیو اوبهرنیو اړیکو ،اداري اوټولنیزو تشکیلاتو اوداسې نوروپه باره کې بحث کوي.

صادرات

بهرنیوهیوادونوته دپلورولولپاره دمحصولاتولېږل

سب تروپیک

هغه اب اوهوا چې په اوړي کې وچه اوپه ژمي کې مرطوبه اومعتدله وي.

سیندحوزه

هغه سیمه چې هلته اصلي سیند دخپلو ټولو مرستیالانوسره بهیږي.

د هیلی فیاض کال مطالعه یار

## ش

### شمالي قطب

د ځمکي د کري عرض البدونو د $66\frac{1}{2}$ درجو څخه تر 90 درجو پورې.

### شګه

د ډبرو هغه کوچني ذري او دانې چې قطر يې له ۰،۰۲ ملي متر څخه کوچني وي.

### شګلني صحراګاني :

شګلني صحراګاني دا صحراګاني هغه وخت را منځ ته کيږي چې د صحرا ټولي خاوري او سيلت د بادونو په وسيله ليږدول شوي وي او د صحرا پر مخ يوازي شګي پاتې وي.

### شفق

هغه روښنايي چې دلمرله لويدو څخه وروسته په ځمکه لګيږي چې په مقابل کې يې سحروي. سحرهغه روښنايي ته وايي چې دلمردراختلو څخه مخکې په ځمکه لګيږي. شفق اوفجرد ماښام اوسهار دلمانځه لپاره خورا ارزښت لري.

### شمالي لرغونې وچه انګارا

### شاليزار

هغه ځمکې چې شولې په کې کرل کيږي.

### شمالي قطب

دځمکې دکرې شمالي وروستۍ برخې ته وايې.

### شمالي نيمه کره

داستوا کرښې نه ترشمالي قطب پورې شمالي نيمه کره بلل کيږي.

## ص

### صخره

دتيګو اوډبرو مجموعې ته ويل کيږي چې ديويا څوډولونو منرالونو څخه منځته راغلې وي

.صحرا :

هغه سيمې چيرته چې د حرارت د درجي اختلاف زيات ، د بادونو د فعاليت غوره مرکز او کلني ورښت يي له **۲۵** ملي مترو څخه لږ وي.

صادرات:
بهرنیو هیوادونو ته د پلورولو لپاره د محصولاتو لېږل

صنعت
د محصولاتو یا توکو د شکل بدلون، په ځانګړې توګه د ماشین په وسیله

صحرايي اقلیم
هغه اقلیم دی چې ځانګړتیاوې يې داورښت لږوالی، د شپې او ورځې تودوخې د درجې زیات توپیر، سخت بادونه او د بوټو او نباتاتو لږوالی دی.

طغیان (مستېدل)
داوبو ناڅاپي زیاتوالی یاد سیندونو سیلابي کېدلو ته ویل کیږي چې د زیاتو اورښتونو یادواورو د چټکې ویلې کېدنې په سبب منځته راځي.

ط

طول البلد
هغه کرښې چې د شمالي او جنوبي قطب ترمنځ امتداد لري او په عرض البلدونو عمودي وي.

طبیعي منابع
هغه دګټې اخستنې وړ منابع چې الله پاک دانسانانو په واک کې ورکړي دي لکه: کانونه، حاصل خېز خاورې، ځنګلونه، داوبو قوه، سمندري حیوانات او داسې نور.

طغیان (مستېدل)
داوبو ناڅاپي زیاتوالی یاد سیندونو سیلابي کېدلو ته ویل کیږي چې د زیاتو اورښتونو یادواورو د چټکې ویلې کېدنې په سبب منځته راځي.
طول البلد
هغه کرښې چې د شمالي او جنوبي قطب ترمنځ امتداد لري او په عرض البلدونو عمودي وي.
طبیعي منابع
هغه دګټې اخستنې وړ منابع چې الله پاک دانسانانو په واک کې ورکړي دي لکه: کانونه، حاصل خېز خاورې، ځنګلونه، داوبو قوه، سمندري حیوانات او داسې نور.

اوس طبیعي منابع په دوو غوره ډلو لګښتي اونوی کیدونکو(دبیاګټې اخېستنې ) وړویشل شوي دي دبیاګټې اخېستنې منابع، نوې کیږي او بیا بیا دګټې وړوي لکه: دبادونو

پوهنیالی ریاض ګل مظلوم یار

اودلمر څخه لاس ته راغلې انرژي اوهغه منابع چې ديوځلې گټې اخېستتنې وړدي.لکه : دډبروسکاره ،نفت اوطبيعي گاز.

غ

غرب الهند:

داصطلاح لومړي ځل دکارابين په سمندرگيو کې دپرتوټاپوگانو لپاره استعمال شوه ، داټاپوگان دلوی انتيل(کيوبا ،بهاما ،دومنکين،هايتي) اوکوچني انتيل( ترينيداد اوتوباگو) څخه عبارت دي.

غرونه---- Mountains

غرونه دځمکې دمخ هغه نا اوارې او لوړې برخي دي چې دتيرو څوکو او مختلفو جوړښتونو لرونکې وي

غونډۍ Hill

غونډ ي دځمکې دمخ هغه کوچنې نه اوارې برخې دي چې د خپل شاوخوا چاپير يال په مقايسه لوړې او دغرونو څخه کم د۳۰۰ څخه تر ۵۰۰متره پورې لوړوالې ولرې

غرنۍ اب هوا

دغرنيو سيموځانگړې اب اوهوا ده چې لوړوالی(ارتفاع) پکې ټاکلی رول لري ، په دې اب اوهواکې هوا سړهاومعمولا په ژمې کې واورې اوباران اوري.

ف

فلات

دځمکې هغه لوړې چې دسيندله سطحې لوړې وي،کيدای شي چې فلات په څلورخواوکې لوړغرونه قرار ولري.دځمکې دسطحې لوړترين فلات دتبت فلات دی چې دهمالياواورست لړې په برکې نيسي.

فزيکي تخريب :

د هغو تخريبي کړنو څخه عبارت دي چې ډبري په غټو او کوچنيو ټوټو ماتوي پرته له دي څخه چې د هغې په کيمياوي ترکيب کې کوم بدلون را منځ شوي وي.

فدرال:

دهغه حکومتونو ځانگړتياده چې دخپلواکو ايالتونو ديووالې په صورت کې تشکيل شوي وي اوپه سياسي اونظامي چاروکې دمرکزي حکومت تابع وي.

فدراسيون:

د څو سياسي واحدونو( ايالتونو، هېوادونو ) اتحاد او د واحد مرکزي دولت تشکيل ته فدراسيون وايي. د فدراسيون غړي واحدونه په اکثرو داخلي چارو کې مستقل او په خارجي چارو کې د واحدې مرکزي اداري د صلاحيت تابع وي. د اختياراتو حدود د فدراسيون په اساسي قانون کې واضح وي. په داسې دولتونو کې دوه ډوله شوراګانې او دوه ډوله حکومتونه موجود وي، فدرالي شورا او حکومت او ايالتي شوراګانې او حکومتونه، خو ايالتي قوانين بايد هيڅکله د فدرالي قوانينو مخالف نه وي. د امريکا متحده ايالات، فدرالي المان، استراليا او د هند دولتي سيستمونه فدرالي دي.

فوسيل

دژونديوموجوداتو(حيواناتو اونباتاتو )پاتې شوې برخه ده چې په ډېره اوږده موده کې درسوبي موادو لاندې ښخ شوي وي او ځای يې کاني موادو نيولي وي.

ق

قطبين

دځمکې شمالي اوجنوبي برخې چې دځمکې دڅرخيدو په دواړو لوروکې واقع دي قطبين په نوم يادېږي.

قله

دغرونولوړې څوکې دقلې په نوم يادېږي

قطب نما

قطب نما هغه اله ده چې شمال او جنوب لورې ښايي حا صتا هغه خلکو لپاره چې په سمندر او په فضا کې سفر کوي د دوې په بيړيو او الوتکو کې قطب نما اله موجوده وي او لورې معلومولو کې ترينه ګټه اخلي په جغرا فيايې لحاظ د ځمکې قطبونه ښا يې

قطبي قطر

چې په اصل کې دځمکې محوردی،اوپه استوايي قطرباندې عمود وي ، يوه څنډه يې شمالي قطب اوبله څنډه يې جنوبي قطب جوړوي.

قطبي اقليم

هغه ډول اقليم ته ويل کيږي چې ډېره سړه اوکنګل اب اوهوا لري ، داډول اقليم دشمالي اوجنوبي قطبي سيمو ځانګړی اقليم دی.

**قطب ستوری**

غټ او ځلیدونکی ستوری دی چې د ځمکې شمالي قطب د هغې په لورې پروت دی.

**ک**

**کانتور کرښې**

هغه کرښې چې د نقشې پر مخ یو ډول ارتفاع لرونکې سیمې په نښه کوي.

**کنګلونه**

د یخ ټوټې چې د غرونو په لوړو برخو او قطبینو کې شتون لري.

**کیمیاوي تخریب**

کیمیاوي تخریب د هغو تخریبي کړنو او عوارضو څخه عبارت دي چې نه یوازې د ډبرو د ماتیدو لامل ګرځي بلکې د هغو په کیمیاوي ترکیب کې هم بدلون را منځ ته کیږي دا ډول تخریبي کړني په ګرمو او مرطوبو اقلیمونو کې تر هر اقلیم زیات تر سره کیږي.

**کلتور:**

د بشري ټولنو هغه مادي او معنوي ارزښتونه چې د انسان د ذهن او فکر محصول او یو مسلسل او پرله پسې عمل په توګه د یو نسل څخه بل نسل ته په میراث لیږدول کیږي او په انساني ژوند کې ژوره اغیزه او تاثیر لري، کلتور بلل کیږي.

کلتور دوه برخې لري:

لومړی: مادي برخه

دویمه: معنوي برخه

**مادي برخه:**

ځینې خلک یې تمدن هم بولي او ټول تولیدي وسایل، تولید، تخنیک، تولیدي تجربې او نور ارزښتونه په کې شامل دي.

**معنوي برخه:**

ځینې خلک ورته تهذیب وایي. پوهه، هنر، ادبیات، اخلاق، رسم او رواج، آرایش، ناسته پاسته، غم، ښادي، خوراک څښاک، ولسي سندرې او موسیقي په دې برخه کې راځي. ځینې پوهان تاریخ او ملي افتخارات هم د کلتور جزء بولي. ژبه چې د کلتور جزء او د کلتوري انتقالاتو وسیله ده، که د کوم ملت څخه واخیستل شي نو نو موړی ملت ژوندی نه پاتې کیږي. شفاهي ژبه تر تحریري ژبې په کلتوري انتقالاتو کې زیاته مؤثره ده. د ملتونو کلتوري

مميزات سره توپير لري او د هر ملت ملي هويت او خصوصيات ورڅخه ښكاره كېږي. ملي كلتور بايد د ملت د منافعو ساتونكى وي

كانال:

د سيندونو ،سمندرونو اوسمندرګيو ترمنځ دانسان په وسيله دوچپكيندل دحمل اونقل داسانولو لپاره.

كودتا:

په فرانسوي ژبه كې د دولت د رانسكورولو معنا وركوي. د دولت هغه ناڅاپه بدلون چې د زور په وسيله د دولتي لوړو مقاماتو او اردو په وسيله رامنځ ته كېږي، د كودتا په نوم يادېږي.

## ګ

ګلف ستریم

دتودو اوبو بهير دمكسيكو دخليج څخه له تېريدو وروسته دكاناډا ترسواحلو پرمخ ځي ، اوبيايې لورى داروپا خواته بدلون مومي اودشمال لويديځې اروپا داوبو دتويدلو سبب كيږي.

ګرينويچ

لندن ته نږدې يوپارك دى چې دګرينويچ رصدخانه په كې جوړه شوې ده اودصفردرجې طول البلد دهغې له منځ څخه تيريږي.

ګرانيت

يو ډول اورنۍ ډبرې دي چې مګمايي كړنې د هغو په را منځ ته كيدو كې فعال رول لوبولي دي.

## ل

لويه وچه

دسمندرونو ،سمندرګيو،غرونو ترمنځ لويې وچې ته براعظم ويل كيږي. لكه اسيا ،اروپا ،افريقا....

لېرې ختيځ

په لېرې ختيځ كې چين، كوريا ،جاپان،دروسې ختيځې برخې،دفليپين ټاپوګان،هندوچين، ټايلنډ، ميانمار،ماليزيا اواندونيزياهېوادونه شامل دي. دغه اصطلاح اروپايانوپه دويمه

نړیوال جګړه کې دیادو هېوادونو له خوا فرانسې او انګلیستان په ډېره لږې ختیځه برخه کې پرتو هېوادونو او سیموته کارول.

م

متحوله ډبرې

هغه رسوبې اوناریه ډبرې دوخت او زمان په تېریدو متغیرې شوي وي دمتحوله ډبرو په نوم یادیږي.

مدل---- Model

مدل دجغرافیایې پدیدو کوچني شوې شکل څخه عبارت دې چې دجغرافیایې موضوعاتو په پیژندلو کې ترینه ګټه اخستل کېږي

مونسوني بادونه

هغه بادونه چې په ژمې کې دوچې څخه دسمندرپرلوراوپه دوبې کې دسمندرڅخه دوچې په لورچلیږي.

متحوله ډبرې :

د هغو ډبرو څخه عبارت دي چې د لوړ فشار او حرارت تر اغیزي لاندي د یو حالت څخه بل حالت ته تحول کړي وي.

منرال :

د هغو کیمیاوي مادو څخه عبارت دي چې د هغوي ترکیب د ټاکلي کیمیاوي فورمولونو په وسیله ښودل شوي وي. کیداي شي چې مینرال په یوازي ( خالص ) توګه او یا هم نورو مینرالونه سره په ګډه تبلور کړي وي.

مغارې

مغاري یا هغه سوري چې بد ځمکې سطحي لاندي اوبو د جیولوژیکي فعالیت په نتیجه کې را منځ ته کیږي . دا ډول مغاري معمولاً د څو مترو څخه تر څو کیلو مترو پوري اوږدوالي لري.

مهاجرت

د استوګنې دځای بدلون دیوې سیمې څخه بلې سیمې ته مهاجرت ویل کیږي ،که دامهاجرت دهېواد په دننه کې وي دInternal Displacement په نوم اوکه دیوه هېواد څخه بل هېواد ته وي د Immigration په نوم یادیږي.

مدوجذر

دسمندرونو ،سمندرګیو ،خلیجونو اوجهیلونو داوبو منظم اویاپرله پسې دوره یې پورته کېدل اوښکته کېدل چې دسپوږمۍ اولمر دجاذبې دقوې په اثر په ۲۴ ساعتونو کې دوه ځلې تکرارېږي.

منځنی ختیځ

منځنی ختیځ داسیاپه جنوب لویدیځ اودافریقاپه شمال ختیځ کې پروت دی،چې ترکیه،ایران، عراق، فلسطین، اردن،لبنان ،سوریه،دعربستان ټاپووزمه،مصراوسوډان هېوادونه احتواکوي. دغه اصطلاح دلېرې ختیځ داصطلاح په شان په دویمه نړۍ واله جګړه کې دانګلیسي نظامیانوله خوا وکاریدله

مقیاس

په یوه نقشه کې د دوو نقطو ترمنځ فاصلې او د ځمکې پر مخ د همهغه دوو نقطو ترمنځ د اُفقي فاصلې نسبت ته مقیاس ویل کېږي.

مصنوعي کره

مصنوعې کره دځمکې کوچنې مدل دې چې دنوموړې کرې پر مخ سمندرونه او وچې ترسیم شوې او هرې برخې ته یې بېلا بېل رنګونه ورکړې وي

مرغومې کرښه

دمرغومې کرښه داستوا له کرښې سره موازي،داستوادکرښې په جنوب ککې په ۵، ۲۳ درجو ترسیم شوې ده،دې کرښې ته ځکه دمرغومې کرښه وایې چې دمرغومې دمیاشتې په لومړی نېټه دلمروړانګې ددې کرښې دپاسه په مستقیم ډول راځي،په دې وخت کې په جنوبي نیمه کره کې اوړی اوورځې اوږدې وي، په شمالي نیمه کره کې ژمی وي اوشپې اوږدې وي.

مصب

هغه ځای چې سیند ،سمندرګی یا سمندرته تویېږي اوورسره یوځای کېږي.

مصنوعي سپوږمکۍ

دنوې تکنالوژۍ ډېره عصري وسیله ده چې دځمکې اوسیارومطالعه کوي.

مدل----- Model

مدل دجغرافیایې پدیدو کوچني شوې شکل څخه عبارت دې چې دجغرافیایې موضوعاتو په پیژندلو کې ترینه ګټه اخستل کېږي

میزشن

میزشن دجغرافیه په زده کړه کې دغوره مدلونو له ډلې څخه شمیرل کېږي چې دمختلفو ساده موادو لکه خاوره –شګه –ګچ او داسې نورو موادو څخه دحقیقې شې مختلف مدلونه جوړیږي

مجسمه کره

دځمکې دکرې کوچنی مدل په یوټاکلي مقیاس باندې دی.

مدیترانه یې اقلیم

هغه اقلیم دی چې دوبی یې تود او وچ اوژمې یې باراني اوملایم وي.

ملي پارک

طبیعي باارزښته تړلې سیمه، چې لږترلږه لس زره هکتاره وي اوددولت له خوایې ساتنه کیږي.

مدوجذر

دسمندرونو ،سمندرګیو ،خلیجونو اوجهیلونو داوبو منظم اویاپرله پسې دوره یې پورته کېدل اوښکته کېدل چې دسپوږمۍ اولمر دجاذبې دقوې په اثر په ۲۴ ساعتونو کې دوه ځلې تکراریږي.

معتدله سیمه

داسیمه دشمالي اوجنوبي عرض البلدونو د۵،۲۳ او۵،۶۶ درجو ترمنځ پرته ده اودکال دڅلورو فصلونو شتوالی ددې سیمې له مهمو ځانګړیتاو څخه دي.

مصب

هغه ځای چې هلته دسیندونو اوبه سمندرګیو ،سمندرونو ، جهیلونو یالوی سیند ته تویږي.

مرستیال

هغه کوچني سیندونوه چې اوبه یې دنبي اوچپ اړخ څخه لوی سیند ته تویږي.

مستعمره

هغه سیمه یاهېواد چې دپردي دولت له خوانیول شوي وي.

مصنوعي کره

مصنوعې کره دځمکې کوچنې مدل دې چې دنوموړې کرې پر مخ سمندرونه او وچې ترسیم شوې او هرې برخې ته یې بیلا بیل رنګونه ورکړې وي

مجمع الجزایر

مجمع الجزایر هغو ډېرو ټاپو ګانو ته ویل کیږي چې یو ځای سره پراته وي لکه:د جاپان مجمع الجزایر

ن

نژاد

یوه ډله خلک چې د طبیعي ،وراثت او اصالت له نظره یو ډول خصوصیات لري، یعنې د قیافې دونې جګوالی او ټیټوالی، دسترګو ،ویښتانو او پوټکې درنګ ځانګړنې یې ورته والی ولري.

ناریه ډبرې

هغه لاوا چې د سرېدو وروسته په ډبرو بدلیږي نو موږې ډبرې د ناریه ډبرو په نوم یادیږي.

نفوسو میخانیکي حرکت

هغه حرکتونه چې سیاسي ،اقتصادي او مذهبي او نورو لاملونو په سبب د هېواد څخه بهرته کیږي ،د نفوسو د میخانیکي حرکت څخه عبارت دي.

نفوسو چاودېدنه

دنفوصو د شمېر چټک زیاتوالی په وروسته پاتې هېوادونو کې د مړینې د سطحې راټیټېدل او د زیږونو شمېر په لوړه سطحه ساتلو ته د لودیځ پوهان دنفوسو چاودېدنه وایې.

نزدې ختیځ

د لویدیځې اسیا یوه برخه، ترکیه، قبرس، سوریه، لبنان، فلسطین، اردن، عربستان ټاپو وزمه، ایران او عراق دنزدې ختیځ په هېوادونو کې شامل دي

دنزدې ختیځ اصطلاح د انګلیستان له خوا رواج شوه چې مخکې د بالقان ټاپووزمې ته ویل کیده.

نقشه

د یو کاغذ په مخ د ټاکلي مقیاس له مخې د ځمکې د کُرې د یوې برخې تصویر ته نقشه وایې.

ناسا

NASA: د امریکا د متحده ایالاتو د فضایې تحقیقاتو موسیسه ده

نقشه ---Map

نقشه د جغرافیایې پدیدو هغو شکلونو څخه عبارت چې د خپلو اړتیاو په اساس په مختلفو مقیاسونو سره جوړیږې

پوهیالی فیاض علي مظلوم یار

ناپېیلي هېوادونه:
دغه اصطلاح په هغو هېوادونو اطلاق کېږي چې د خیتځ او لویدیځ ترونونو څخه د مستقل سیاست پېروي کوي. په عمومي ډول ناپېیلي هېوادونه هغو هېوادونو ته ویل کېږي چې د ختیځ او لویدیځ بلاک هېوادونو د سیاست تابع نه وو ، مستقل خارجي سیاست یې درلود. یا په بله ژبه د دواړو بلاکونو په وړاندې یې تعهد نه درلود. ناپېیلي هېوادونه د ختیځ او لویدیځ بلاک په څېر نظامي او سیاسي اتحادیه نه وه او ددې دواړو بلاکونو په وړاندې یې کوم نظامي تړون نه درلود ، یوازې یې د یوې اخلاقي قوې په توګه په بین المللي سیاست کې نفوذ درلود.
ناپېیلي هېوادونو د کپیټالیزم او کمونیزم په وړاندې کومه ګډه مشخصه ایډیالوژي نه لرله. بلکه مختلفو هېوادونو مختلف ایډیالوژیک تمایلات او مختلف سیاسي رژیمونه لرل. ددې هېوادونو د ناپېیلتوب سیاست د دوی په خپلو ملي منافعو ، له نړیوالې جګړې څخه د ځان ساتنې، په نظامي تړونونو کې د نه ګډون او د نړیوال بحران د تخفیف په لزوم اتکاء لرله.
نوري کال
هغه واټن دی چې نور یې د۳۰۰ زرو کېلومتره په چټکوالي سره په یوه ثانیه کې دیوه کال په موده کې وهي.

ه

هم ګټي(مشترک المنافع ) هېوادونه
دهیوادونو ځانګړتیاوې چې په یوه ډول سره یې یووالی کړی وي ، اودیووالې مهمه ځانګړتیاویې اقتصادي عامل وي لکه دانګلیستان دهم ګټو هېوادونو ټولنه.
هوا(جو )
دځمکې دمخ چارچاپیره هواته جو وایې.
هکتار
دمساحت داندازه کولو واحد دی چې هرلس زرو مترو مربعومعادل یاپنځه جریبه ځمکې سره مساوی دی.
هوایي انځورونه :
د هغو انځورونو څخه عبارت دي چې د سټلایټونو او مصنوعي سپوږمکیو په واسطه اخستل کیږي او د ځمکې د مخ ټولي فزیکې، طبیعي او کلتوري ځانګړتیاوي په خپل اصلي بڼه رابښیي.

هومس

د هغو نباتي بقايا وو يا پاتي شونو څخه عبارت دي چې د خپل کيمياوي شميريي څخه وروسته د کرنيزو ځمکې کرنيز ورتيا زياتوي.

هايدروګرافي :

دجيولوژي علم د هغي څانګي څخه عبارت دي چې د ځمکې د کري د اوبو په هکله څيړنه کوي.

هايدروجيولوژي:

هايدروجيولوژي دجيولوژي د هغه ځانګړي علم څخه عبارت دي چې د ځمکې د سطحي لاندي اوبو او د هغي د را ايستلو لارو چارو په هکله څيړنه کوي.

هايدروسفير :

هايدروسفير د جيولوژي د علم د هغي څانګي څخه عبارت دي چې د ځمکې د مخ د ټولو ،اوبو قطبي يخچالونواو په اتموسفير کې د اوبو بخارات ترڅېړنې لاندې نيسي.

هايدرولوجيک سايکل

په طبيعت کې د اوبو دوران چې د سمندرونو د سطحي څخه پيل او بيرته په سمندر کې پاي ته رسيږي.

هېواد (وطن):

هېواد هغه خاوره ده چې د جغرافيايي حدودو په واسطه محدوده شوې وي او يو ګڼ شمېر وګړي د ګډو خصوصياتو د درلودلو له امله په کې ژوند وکړي.

و

وادي

ددوه غرونو ترمنځ نسبتا پراخه ساحه ده چې هلته سيندبهيږي اودانسانانو ،حيواناتو اونباتاتو لپاره يې ښه شرايط برابرکړي وي.

وادي دځمکې هغه اواره او سمسوره برخه ده چې دواړو غاړو ته يې لوړې برخې او يا غرونه وجودولري او دنفوسو څخه ډکه وي

وچ اقليم

هغه اقليمي سيمه چې دستپ اقليم اوصحرايې اقليم په کې شامل وي.

# ي

**يخچال**

دهميشني كنگل پنډې اولوي كتلوته يخچل ويل كيږي ،چې دكلونو كلونو په اوږدوكې تشكيليږي اوورو ورو حركت كوي.

**يورشيا**

يورشيا هغه لرغونې وچه ده چې داسورې لرغوني تمدن كې ختيځه برخه داسيو په نامه يعنې دلمر راختلو په معنې او لويديځه برخه يې ا يرب په نامه چې دغروب معنې وركوي يادېدله چې وروسته يې ا ها مبولد جغرافيه پوه دا وچه ديورشيا په نامه ياده كړه

Download from:aghalibrary.cm